مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۹/۲۰

# د معرفت وږمې

زه چې کله ډوب شمه ، د ناز په خـیالونو کې
لاړ شمه ، بیا ورک شمه په خپلو جهانونو کې

کله شـــم ژورې ته ، او کله شمه ، هسکې ته
کله غوپه وخـــورم، د فـــطرت په دریابونو کې

څوک به مې راورســـي، انداز د خـــیالونـــو ته
زه چې ژورسـوچ کې ، وزنګیږم، په ټالونو کې

نه وړي بیخودی مې، د مستی او د جنون په لور
زه نه یمه خود کې؟ یا څه چل دی، شرابونو کې

کله د غـــرقاب ځیني وباســـم ، د معنی ګوهر
کله شمـــه ورک، د سمـــندر ، په توفـانونو کې

ویني حقـــیقت کې ،عارفان مې عـــاجزی مقام
کله چې ډوبیږمه ، د اوښـــکو ســـیلابونو کې

هغه کیفیت هم ، چې په درک د عاجزی کې شته
کله یې موندلی شـــي شاهان ، په محـلـولونو کې

زه لـــکه د ګل په خیر، وږمې د محـــبت شیندم
هر لوري یې لیږم ، په شـــعرونو پیـغامونو کې

زه چې حکمـــــتونه، په هر پاڼي د ګلشن وینـم
څوک یې میندی نشي ، په نسـخو او کتابونو کې

بوی د معـرفت مې لـــه ویناء صـــاحبدلان اوري
زه یمـــــه دیره، لـــکه وږمـــه لا په ګـلونو کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ